# Let's Make it, HACKTIVIST



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څنګه یو هکټویسټ جوړ کړو؟

## د سایبر جګړې وسلې: کود لیکل، کشف کول، غچ اخیستل او ساتنه

نامعلوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

دا شاید جالبه وی چی کتاب کی د لیکوونکی نوم نه دی ذکر شوی، هیڅ کریدیت نه اخلی او په انانیموس ډول سره غواړی ترڅو افغانان په دی ډګر کی پرمختګ وکړی.

هغه څوک چې دا لیکي، شاید ستاسو تر څنګ، همصنف، یا یو نابلده وګړی وي. خو له ډیرو کلونو راهیسې یې د هکرانو له نادیدي نړۍ سره ژوند کړی. د ګڼو هکټویسټ غړی پاتې شوی. داسې سیستمونو ته یې لاره موندلې چې نور یوازې د دوی نوم اوریدلی. د کاذبو واکمنو شاته پرتو پردو ته یې سر ور دننه کړی، پټ رازونه یې لوستلي، او د داسې حقیقتونو ننداره یې کړې چې معمولي سترګې یې نشي زغملای.

دا کتاب ددی لپاره نه دی لیکل شوی چی زه وخایم زه پوه یم بلکی ددی لپاره لیکل شوی ترڅو وخایم تاسو یی هم کولای شی. د تکنالوژۍ نوم خو مو ټولو اوریدلی، د سایبري جګړې خبرې خو هر محصل کوي، او د "هک" کلمه خو لا اوس د ماشوم په خوله ده.

خو پوښتنه دا ده:

ولې بیا هم تر اوسه افغانستان کې نه یو قوي هکټویسټ راڅرګند شوی او نه هم کومه هکری ډله ؟

ولې تر اوسه زموږ له خاورې د نړۍ زلزلو ته ورته سایبري برید نه دی شوی؟

آیا موږ نشو کولای؟

که کولی شو، نو ولې مو دا دروازه نه ده پرانیستې؟

دا کوچنی لیکل شوی کتاب به مو ټولی پوښتنی حل کړی.دا کتاب د هغوی لپاره دی چی نه غواړی نور تماشاچیان پاتی شی، بلکی ستوری شی.

د راتلونکي ورځې لپاره تیار شئ. کیبورډ مو وسپړئ، ذهن مو ازاد کړئ، له تورو کوډونو سره خبرې پیل کړئ، ځکه دا ستاسو سبا دی.

په درنښت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هکینګ څه شی ده او هکر چاته ویل کیږی؟

پخوا به ویل کېدل چې "هر هغه څه چې انټرنېټ ته وصل شي، هک کېدای شي." خو اوسنی واقعیت دا دی چې نړدې هره الکترونیکي وسیله د هک کېدو وړتیا لري. هکینګ هغه عمل ته ویل کېږي چې یو کس د سیسټم یا شبکې مالک له اجازې پرته لاسرسی ترلاسه کړي، پټ او شخصي فایلونه ترلاسه کړي، د معلوماتو بدلون راولي، یا یې حتا ټولې ډېټا له منځه یوسي. په بل عبارت، هکینګ د ډیجیټلې نړۍ هغه کړنه ده چې د سیستمونو امنیت له منځه وړي او د محرمیت، باور او ثبات پر وړاندې جدي ګواښ رامنځته کوي.

هکر هغه کس ته ویل کیږی چی بغیر له اجازی د یو چا کمپیوتر ته لاسرسی پیدا کړی د هغه پراویسی ماته کړی او ډیجیټلی شخصی حریم یی له منځه یوسی.

فکر وکړۍ احمد د ریاضی مضمون کی ټنبل دی او.نه شی کولای پوره نمری واخلی خو احمد یو څه لری، د هکینګ مهارت، هغه د ریاضی استاد کمپیوتر ته غیر مجاز لاسرسی پیدا کوی او د ریاضی نمری د ځان لپاره لوړوی یا هم تر امتحان د مخه د ریاضی سوالونه د استاد د کمپیوتر څخه ترلاسه کوی. دا عمل ته هکینګ وایی او ددی عمل ترسره کوونکی ته هکر وایی.

دا نو دومره تشریح ته ضرورت نه لری د هکینګ او هکر لپاره هرڅوک خپل لید ته په کتو یو تعریف جوړولای شی.

د هکینګ مفکوری د کمپیوتر له جوړښت وړاند هم شتون درلود، خو د نن ورځی د مفکوری بنست د کمپیوتر سره تړلی ده.

هکینګ د اړتیا نه نه، بلکی د ځان پیژندنی او شخصی ازادۍ لپاره رامنځته شو.

دولتونه بیا د دښمن د ځپلو لپاره هکینګ کوی.

ځینی بیا مستقل وی او مالی انګیزه لری ،هکینګ د پیسو ترلاسه کولو لپاره کوی.

انانیموس بیا دا کار د ازادی او عدالت لپاره کوی.

شمالی کوریا د خپل پوځ د ځواکمنتیا لپاره د هکرانو په مرسته پیسی راټولوی.

هکینک په خلکو پوری اړه لری سنګه او ولی یی وکړی.

یوشی ته مو باید پام وی،هیڅوک موږ ته نه دریږی نړۍ مخته تللی، د وخت چی څومره په وس کی وو موږ ته منتظر شو خو نور هغه هم څه نه شی کولای،او موږ بغیر له کومی تیاری یوی ډیجیټلی نړۍ ته داخلیږو چیرته چی پیر او پلور په انلاین بڼه ترسره کیږی، چیرته چی جنګ د کمپیوټرونو په کیبوردونو سره کیږی، چیرته چی جنګ په ډیټا دی. او موږ یو هم نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سایبري جګړو د پراخیدو سره، اوس هکران د ملتونو، دولتونو، غورځنګونو، او مقاومتونو برخه ده. د استخباراتو، تبلیغاتو، ډیپلوماتیکو فشارونو، او حتی نظامي عملیاتو لپاره هم هکران کارول کېږي. دا د دې عصر "نوی سرتیري" دي، چې وسلې یې کودونه، تارګېټونه‌یې سرورونه، او میدان‌یې انټرنټ دی.

# هکینګ د افغان ځوان لپاره څه معنا لري؟

(سیاسي، استخباراتي او اقتصادي لیدلوري)

۱) له سیاسي او استخباراتي پلوه:

د افغانستان په څېر هېواد کې، چې جګړې، سیاسي ګډوډیو او بهرني لاسوهنو اوږد تاریخ درلود، هکینګ اوس یوازې یو تخنیکي مهارت نه، بلکې یو مقاومت دی. کله چې دولتونه، سازمانونه یا پردي استخباراتي شبکې زموږ پر خاوره، عقیده، ارزښتونو او ذهنونو برید کوي، هکینګ د ځواب یوه غیرمستقیمه او هوښیاره وسیله ګرځي.

یوه افغان ځوان ته، هکینګ دا پیغام ورکوي چې که دولت ضعیف وي، که له هېواد څخه د دفاع وس نه لري، زما دماغ، زما کمپیوټر او زما وصلتیا کیدای شي دفاع وي.

په نړیوال استخباراتي معرکه کې، استخباراتي جګړه یوازې د وسلو نه ده، بلکې د معلوماتو ده، د دروغو پر وړاندې د حقیقت ده. هکینګ هغه ژبه ده چې استخباراتو ته همدا حقیقت ښیي.

۲) د غیر دولتي هکرى ډلو اړتیا

دا ډلی چی نه د کوم سازمان له لوری اداره کیږی او.نه هم د کوم دولت له لوری، بغیر د کوم امتیازه د ملت سره اوږه په اوږه ولاړی وی، د هغوی غږ.اوچتوی، د پردو د بریدونو په مقابل کی ځواب وایی.

۳) د مالي خپلواکۍ او اقتصاد له نظره

زموږ زرګونه ځوانان وزګار دي، ښه زده کړې لري، خو کار نه لري. هکینګ یوازې د حملې وسیله نه ده، بلکې د کار او عوایدو یوه دروازه هم ده.

Bug bounty پلیټفارمونه

سایبر امنیتي خدمات

انلاین کورسونه او مشورې

اوپن سورس پروژې

(c) ketabton.com: The Digital Library

.يو افغان ځوان کولای شي د نړۍ په هر ګوټ کی کار وکړي، پرته له دې چې ويزه، اجازه يا پيسې ولري

يعنې هکينګ کولی شي يوه وسيله شي د غير مشروط مالي خپلواکۍ، خپل مسلک، او خپل شخصيت د جوړونې.

# افغانستان کی د هکینک تاریخچه:

د افغانستان د سايبري نړۍ د پيل تاريخ روښانه او کره اسناد نه لري، ځکه چې لومړني کسان چې په دې هېواد کې يې د سايبري بريدونو لړۍ پيل کړه په رسمي ډول نه پېژندل کېږي او لا تر اوسه دا څرګنده نه ده چې دوی په خپلواک ډول فعاليت کاوه که د کومې حکومتي يا بهرني شبکې تر ملاتړ لاندې وو، خو د موجودو معلوماتو له مخې د ۲۰۰۰ لسيزې په لومړيو کلونو کې، چې په افغانستان کې انټرنېټ ورو ورو عامېده، ځينې ځوانان د ټکنالوژۍ او کمپيوټرونو له نوې نړۍ سره بلد شول او د هيکينګ د لومړنيو تخنيکونو په زده کړه بوخت شول، په لومړيو کې زياتره بريدونه د ډيډاس (DDoS)حملو او د ويب پاڼو د ډيفېس کولو په بڼه ترسره کېدل چې پکې د هدف شوې پاڼې مخ بدلول او د سياسي، قومي يا شخصي پيغامونو خپرول شامل وو، په همدې موده کې يوه مشهوره ډله چې ځان ته يې پښتون سايبر ارمي نوم ورکړی و د افغانستان او د سيمې په سايبري فعاليتونو کې راڅرګنده شوه، د غير رسمي شواهدو له مخې د دې ډلې ډېری غړي د افغانستان د کندهار ولايت او د پښتونخوا سيمې اوسېدونکي وو او دوی خپل بريدونه زياتره د هغو هېوادونو او ادارو پر ضد ترسره کول چې د دوی په اند د پښتنو يا افغانانو پر وړاندې دښمنانه سياستونه درلودل، يادې ډلې به ډېر وخت د خپلو بريدونو وروسته په ډيفېس شوې پاڼه کې د خپلې ډلې نوم، شعارونه، لوګو او کله ناکله د پښتو يا انګليسي ژبې شعرونه خپرول، که څه هم د دوی بريدونه تل ډېر پرمختللي نه وو خو د رسنيو پام يې ځان ته راواړاوه او کله ناکله يې د دولتي ادارو يا خصوصي شرکتونو د کار د موقتي درېدلو لامل کېدل چې په پايله کې يې په افغانستان کې د سايبري امنيت د پياوړتيا هڅې پيل شوې، د پښتون سايبر ارمي د جوړښت، مشرتابه او دقيق شمېر په اړه کره معلومات نشته خو د دوی فعاليتونو د افغانستان د هيکينګ د لومړنيو مرحلو بڼه بدله کړه او د ځينو ځوانانو لپاره يې هيکينګ د يوې نوې، زړه راښکونکې او آن سياسي مبارزې په توګه معرفي کړ، همدا راز د دغسې ډلو ظهور د دې لامل شو چې ځوانانو د سايبري امنيت په برخه کې ليوالتيا پيدا کړي او په عين وخت کې دولتي او خصوصي سکتورونه دې ته اړ شول چې د خپلو انلاين سيستمونو او ويب پاڼو د خونديتوب لپاره جدي ګامونه پورته کړي، چې د وخت په تېرېدو سره سايبري امنيت په افغانستان کې د ټکنالوژۍ يوه مهمه برخه وګرځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

( د افغان هکرانو پیژندنه )

(c) ketabton.com: The Digital Library




Afghan Cyber Army

# افغان سایبر ارمي: پېژندنه او فعالیتونه

افغان سایبر ارمي یو هیکټیوست یا سایبري فعاله ډله ده چې د ملي احساساتو پر بنسټ د افغانستان په ملاتړ رامنځته شوې ده. دې ډلې د پاکستان، امریکا، اسرائیل، طالبانو او نورو پر وړاندې سایبري بریدونه ترسره کړي دي. دوی اکثره د خپلو بریدونو خبرونه او ادعاوې د فیسبوک او یوټیوب له لارې خپروي، او یوځل بیا د رسنیو راپورونه هم دغه ادعاوې تائیدوي.

دغه ډلې پر فیسبوک خپل فعال حضور لري، بریدونو پس یې د ځان پیغامونه، نښې، او کله نا کله د غړو انفرادي نومونه خپروي چې د ځان پېژندنې هڅه وي. په ځینو بریدونو کې دوی د راتلونکو بریدونو لپاره خبرداری هم ورکړی، لکه د "۳۰ زره ویبپاڼو په نښه کولو" یادونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مشهورو بریدونه

1) د پاکستان پر ویب‌پاڼو بریدونه:

په ۲۰۱۳ کال کې د لوړپوړو وزارتونو ویب‌پاڼې هیک او ډیفیس شوې:

د پاکستان د دفاع، کورنیو چارو وزارت، اقتصادي چارو وزارت، کابینې څانګې، ملي روزنې ادارې، او د تیلو او طبیعي زیرمو وزارتونه په نښه شول. په ډیفېس کې د کابل د ځانمرګو بریدونو په غبرګون کې، پیغام دا و:

مونږ د افغانستان نوې ځوان نسل یو ... مونږ یو ځای ولاړ یو، یو ځای مړه کېږو.

“Remember we are the new generation of Afghanistan … We stand together, We die together.”

سرچینه:

[6 Pakistani Ministry Websites Hacked by Afghan Cyber Army]

اووه پنځوس ویب‌پاڼې هم د ملي ورځې په ورځ (د پاکستان د خپلواکۍ ورځ) هیک او ډیفیس شوې.

پیغامونه پر مرموزو زده کړو، د پاکستاني پوځ د بریدونو غبرګون او د افغاني قهر څرګندونه وو.

*“We will not let any torture … unanswered.”*

2) د اسرائیل پر ضد بریدونه

د افغان سایبر اردو د خپلو سایبري بریدونو په لړ کې، د فلسطین د ملاتړ په موخه، د اسرائیل پر وړاندې هم بریدونه ترسره کړي دي. د دې بریدونو هدف د اسرائیل د دولتي ویب‌پاڼو بدلون، د معلوماتو افشا کول، او د سایبري بریدونو له لارې د فلسطین قضیه نړیوالو ته وړاندې کول وو..

د دې بریدونو موخه یوازې د اسرائیل د دولتي ویب‌پاڼو بدلون نه، بلکې د فلسطین د قضیې نړیوالو ته وړاندې کول او د دې قضیې په اړه د عامه پوهاوي زیاتول وو.

د افغان سایبر ارمی موخې:

سیاسي پیغام: د پاکستان د بهرنیو سیاستونو په ځواب کې بریدونه

ملي ویاړ ښودل: خلکو ته د ځواک نښه

د فلسطین د خلکو ملاتړ


د خلکو پام او ملاتړ: د رسنیو او ټولنیزو شبکو له لارې د ملاتړ هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندی ددی ځلی ځینی عکسونه د نورو حملو د ثبوت په توکه راځلو:

National University Of modern Language Lahore Campus:

[afghan cyber army atacked on pakistani website (feel the power of afghanistan ) - YouTube]




50+ Pakistanin websites Hacked by Afghan Cyber Army

سرچینه:

[50+ Pakistani Sites Hacked by Afghan Cyber Army ~ The Hackers Media™ [ THM ]]

(c) ketabton.com: The Digital Library




Afghan Cyber Army ACA) ● Hacked 305 USA websites #OpUSA

Afghan Cyber Army ACA) ● Hacked 305 USA websites #OpUSA (PROMOTE) - YouTube 2 - YouTube



(c) ketabton.com: The Digital Library

له ۲۰۱۷ کال وروسته ددی ډلی هیڅ فعالیت نه دی لیدل شوی یواځی ۲۰۲۳ کال کی یی له خپلی صفحی څخه لاندی لیکنه اپلوډ کړی.




له دې پاڼې پرته د افغان سایبر ارمي ټیم په نوم د هر ډول سایبري بریدونو خپرونه اعتبار نه لري او دروغ دی!

Posting any kind of cyber attacks in the name of the Afghan Cyber Army team except this page has no credibility and is lie !

نشر هر نوع حمله سایبری به نام تیم ارتش سایبری افغانستان به جز این صفحه هیچ اعتباری ندارد و دروغ است!

ددی ډلی شعار په دی ډول وو:

"Live for Afghanistan or leave Afghanistan,"

(c) ketabton.com: The Digital Library




Team1919

# ۱۹۱۹ ډله : پېژندنه او فعالیتونه

ټیم ۱۹۱۹ یوه پرمختللې کمپیوټري بریدګر ډله ده چې د نړیوالو سایبري بریدونو لپاره پېژندل شوې ده. دوی د خپلو بریدونو له لارې د سیاسي، فرهنګي، او اقتصادي اهدافو ترلاسه کولو هڅه کوي. ټیم ۱۹۱۹ په ۲۰۲۱ کال کې فعاله شوه او په لنډ وخت کې یې د ګڼو هېوادونو په ویبپاڼو، انټرنیټي خدماتو، او دولتي سیستمونو بریدونه ترسره کړل.

د ټیم ۱۹۱۹ بریدونه معمولا د هغو هېوادونو په وړاندې وي چې دوی یې د خپلو سیاسي یا فرهنګي دښمنانو په توګه ګڼي، او د دې ډلې فعالیتونه د نړیوالو سایبري امنیت ادارو لپاره جدي ګواښ ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مشهورو بریدونه

## د افغانستان په ویب سایتونه برید ۲۰۲۱ - ۲۰۲۳:

د "ډلې" فعالیتونه د افغانستان پر دولتي ویب‌سایټونو د بریدونو سره پیل شول. لومړني هدفونه د افغانستان دفاع وزارت، د لوړو زده کړو وزارت او نور مهم دولتي اداري وې. دی بریدونه د DDoS یا "خدمت څخه د محرومیت" بڼه درلوده؛ یعنې له زرګونو جعلي ریکویسټونو سره ویب‌سایټونه دومره بوختېدل چې فعالیت به یې درېدلی او بند به شول.

په هغه وخت کې دولت نوي جوړېده او ډېری برخې غیر منظمې وې، خو د افغانستان نوي حکومت وکولای شول په ډېر کم وخت کې ویب‌سایټونه بېرته عادي حالت ته راوګرځوي، او د نویو تکنالوژیو په کارولو سره یې خپل سرورونه خوندي کړل.

د دغو بریدونو تر شا موخه دا وه چې افغان دولت ته پیغام ورکړل شي ترڅو د نجونو پرمخ د زده کړو دروازې بیا پرانیزي. کله چې پوهنتونونه هم د نجونو پرمخ وتړل شول، دغې ډلې یو ځل بیا بریدونه وکړل. دا ځل د لوړو زده کړو وزارت ویب‌سایټ، د دوی په وینا، ۱۲ ساعته داون پاتې شو.

له دې وروسته، دغې ډلې نور هیڅ ښکاره برید د افغانستان پر دولتي ادارو نه دی ترسره کړی.




## د سویډن مخابراتی شبکو او کاز سټیشن برید :

دا سایبري بریدونه هغه مهال پیل شول کله چې په سویډن کې یوه کس د قرآن کریم سپکاوی وکړ او هغه یې وسوځاوه. له دې پېښې سره سم د نړۍ له بېلابېلو اسلامي هېوادونو هکرانو د #OpSweden تر نامه لاندې پراخ عملیات پیل کړل.

په دې عملیاتو کې د افغانستان له لوري د ۱۹۱۹ ډلې هم فعاله برخه واخیسته. د عملیاتو په ترڅ کې دغه ډلې وتوانېده چې د سویډن د ګازو د شبکې سیسټمونه له کاره وغورځوي، او همدارنګه یې د څو


(c) ketabton.com: The Digital Library

مهمو مخابراتي شرکتونو ویب سایټونه هک کړل. دا عمل په ځانګړي توګه د عربي هېوادونو، په تېره بیا د الجزایر د خلکو له خوا وستایل شو او د هغوی له پراخه ملاتړ سره مخ شو.

وروسته یی د BredBand2 AB هم هک کړ چی په سویدن هیواد کی یوه مشهوره د انترنت خدمت وړاندی کوونکی کمپنۍ ده.

لاندي تاسو کولای شئ د CyberwarZone راپور وګورئ، او همداراز یو شمېر سکرین‌شاتونه چې له بېلابېلو رسنیو راټول شوي، د دغو بریدونو اړوند نشر شوي راپورونه شيي.



https://cybernoz.com/threat-group-team1919-claims-hit/

# Threat Group Team1919 Claims Hit


CYBERNOZ  JUNE 26, 2023  DARKREADING

Hacking group Team1919 has claimed to successfully executed a cyber attack on BredBand2 AB, one of Sweden's prominent internet service providers.

Threat intelligence service Falcon Feed took to Twitter to announce the BredBand2 AB cyber attack, sharing details about the security incident.

Alongside the tweet, they also posted a screenshot displaying the hacker group's claim of breaching the security systems of the Swedish internet provider.

(c) ketabton.com: The Digital Library









د اسراییلو په ویب سایتونو برید:

دی ډلی د خپل فعالیت په اوږدو کی پر اسراییلی ویب سایتونو هم بریدونه کړی دی او همدارنګه یی د نورو هکرانو سره په #opisrael کی هم ونډه اخیستی ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

په هندی ویب سایټونو بریدونه او په #opindia کې ونډه :




په یوه ویډیو کې چې ددې ډلې ټیلیګرام چینل څخه نشره شوې ښودل کیږي چې دې ډلې په سلګونه هندي ویب سایټونه ډیفیس کړي دي او د هغوی منځپانګه یې تغیر کړې ده.

ددې ډلې نوم د افغانستان د خپلواکۍ کال ۱۹۱۹ څخه اخیستل شوی دی .

دې ډلې خپلې مشهورې حملې یوې ویډیو کې یوځای کړې او د ټیلیګرام چینل کې یې اپلود کړې.

https://t.me/team_1919/19

۱۹۱۹ ډلې خپل فعالیت ته د لاندې پوسټ په کولو سره د پای ټکی کیښود

(c) ketabton.com: The Digital Library

Team 1919

• Hello dear friends, I hope you started the first days of Eid happily. First of all, I would like to thank you for supporting us in any difficult situation. And then I would like to thank all the members of the 1919 team for accepting all kinds of difficult conditions and working for the 1919 team.❤️

• Unfortunately, we want to say that the 1919 team will not have any activity on the Internet after this day. And this will be the last message of the 1919 team to you.

• The video that is published under this post is some of the cyber attacks of the 1919 team, edited by the fans of the 1919 team.

**• we pray and wish success to those cyber teams that carry out cyber attacks against Israel and oppressors.**

سلامونه کرانو دوستانو هیله ده د اختر لومړي ورځې مو په خوښۍ سره پیل کړي وي. لومړی، زه غواړم له تاسو څخه مننه وکړم چې په هر سخت حالت کې مو زموږ ملاتړ وکړ. او بیا زه غواړم د 1919 ټیم ټولو غړو څخه مننه وکړم چې هر ډول سخت شرایط یې ومنل او د 1919 ټیم لپاره یې کار وکړ.

له بده مرغه، باید ووایو چې 1919 ټیم به له دې ورځې وروسته په انټرنیټ کې هیڅ فعالیت ونلري. او دا به تاسو ته د 1919 ټیم وروستی پیغام وي.

دا ویډیو چې د دې پوسټ لاندې خپره شوې، د 1919 ټیم ځینې سایبر بریدونه دي چې د 1919 ټیم د مینه والو لخوا ایډیټ شوي دي.

او مونږ دعا کوو او د بریالیتوب غوښتونکی یو هغو سایبر ټیمونو ته چې د اسراییلو او ظالمانو په وړاندې سایبر بریدونه ترسره کوي.

#Team1919
#OpIsrael
#FreePalestine

😢 6 🔥 1 😁 1 🎉 1 — 579 edited 2:36 AM

Leave a comment

Team 1919

Unfortunately, Today I heard about a heartbreaking news, The funder of team1919 he was known as a ThinkerBoy in the internet world.
Today ThinkerBoy closed his eyes from this world for ever.
My friend, you were a boy with faith and zeal, We always pray for you, and we ask God to grant you paradise.

له بده مرغه، نن موږ دا خبر ترلاسه کړ چې د ۱۹۱۹ ټیم بنسټ ایښودونکی، چې په انټرنټ نړۍ کې د ThinkerBoy په نوم پېژندل کېده، نور زموږ ترمنځ ژوندی نه دی، او له دې فاني دنیا سره یې د تل لپاره خدای پاماني وکړه!

ورور جانه! ډېر وخت کېږي چې له تا سره پېژندګلوي لرم، ته یو باایمان او غیرتي انسان وې، دعا کوو چې الله تعالی دې ګناهونه وبخښي او جنت الفردوس در نصیب کړي.

#Pray For Thinker Boy😢

😢 18 😁 6 ❤️ 2 🥰 1 🤬 1 💩 1 🥴 1 — 1107 edited 5:24 AM

22 comments

سرچینه:

https://t.me/team_1919/18

https://t.me/team_1919/13

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ډلو سربېره نورو ډلو هم په افغانستان کې فعالیت درلود،لکه د Afghan Dragons په نامه ډله چې د فعالیت شروع یې د فعالیت اخیره شوه فقد یوځل راڅرکنده شوه او وروسته یې د وروستې پیغام په لیکلو خپل فعالیت ته د پای ټکی کیښود.

پیغام یې په لاندې ډول لیکل شوی وو:

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته.

لکه څنګه چې تاسو خبر استئ د LetAfghanGirlsLearn# په خاطر موږ د افغانستان دولتی ویب پاڼې ډاون کړې، مهم معلومات مو ترې وویستل او لیک مو کړل.

باید ووایم چې یوه هکرې ډله که هرڅومره کوشش وکړی بیاهم نه شی کولای چې یو بدلون رامنځته کړی، ترڅو چې ملت او خلک ورسره ونه دریږی ټول په یو اتفاق ونه اوسی او د حق لپاره غږ اوچت نه کړی.

زموږ د معلوماتو پر اساس داسې معلومیږي چې د افغانستان خلک د انجونو او ښځو د تعلیم غوښتوونکی نه وو او نه دی، ځکه په ۳ کاله کی هیچا د افغانستان اسلامی امارت په وړاندی مستقیم غږ اوچت نه کړ. نو بناء موږ نه غواړو نور د افغانستان اسلامی امارت هدف وګرځوو او د افغانستان حاکم دولت غلط معرفی کړو ځکه ستونزه په خلکو کی ده نه د افغانستان دولت کی.

ځینې لاندې ټکې چې باید په نظر کی یې ونیسې دا چې:

بهرنۍ رسنۍ چې خپل ځان د افغانستان د خلکو خواخوږی بولی، استخباراتی کړنی پرمخ وړی.

غواړی د ATK پروژه پلی کړی ، ددې پروژې لپاره دوی له هری ممکنې لارې کار اخلی.

۱- په سلهاوو نفر د افغانستان په داخل کی دوی ته کار کوی ، د دولت او نظام د بدنامۍ په خاطر ویډیوګانی ،عکسونه او ... رسنیو ته لیږی.

۲- هیڅ سیستم سیکیور نه وی، مګر دا نه معنی چې یو ډله دې ۴ کاله له یو سیسټم څخه معلومات راټول کړی او وروسته دې پخش کړی چې دا زموږ له لوری د ۱۸ وزارتونو لیک شوی ډیټا ده. مګر دولت پری خبر هم نه وی!

دا هک شوی ډیټا (په اصل کی ټوله شوی ډیټا) د هر وزارت او هرې اداری داخل کی د کارمندانو له لوری دی ډلی ته د ۴ کلونو په جریان کی لیږل شوی ده.(که چیری د فایلونو میټا ډیټا وکتل شی لا ښه پوهیږی)

دا ثابتوی چې اداری کارمندان هغوی ته وفادار دی او افغانانو شخصی حریم په کمو پیسو خرڅوی.

۳- تعصب رامنځته کول: په سلهاوو نه،بلکی په زرګونو کسان په سوشل میدیا (لکه تیک تاک،فیسبوک،انستګرام او نورو رسنیو کی) د تعصب رامنځته کولو هڅه کی دی. دا تعصب تر کم حده د پښتنو،تاجکو او هزاره ترمابین وی،مګر اصلی هدف یې د پښتنو مابین کی مخالفت،تعصب او جنګ جوړول دی. ددې تر ټولو غوره مثال د جنوبی زون او مشرقی زون د خلکو ترمنځ یو ډول کرکه رامنځته کول دی (نو هوښیار واوسی).

۴- په تیک تاک کی زیاتره کسان لکه (هزارستان غوښتوونکی، خراسان غوښتوونکی) د ځو محدودو خلکو له لوری اداره کیږی او د هر کامیابه ماموریت په نتیجه کی ورته زیاته اندازه پیسی ورکول کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د دولت په مقابل کی اوس دریدل هیڅ ګټه نه کوی، هرڅه چی باید تاسو کوئ هغه باید اصلاح وی، د مخورو،مشرانو او سیاسی ځیرو څخه په استفادی مو غړ تر دولت وورسوئ(د ښځو تعلیم،بیکاری او په ټیټی طبقی خلکو ظلم موضوعاتو د حل لپاره تراوسه هیڅ کومه جرګه نه ده جوړه شوی).

- دولت باید د ښوونی او روزنی برخی ته زیاته پاملرنه وکړی.

۱- د ټکنالوجی برخه کی ترټولو زیات کار باید وشی،ورکشاپونه،لنډمهاله کورسونه باید جوړ شی.

۲- سایبری امنیت برخه کی له حده زیات کار باید وشی، باید له دی وروسته په پوهنتونونو کی تدریس شی.

۳- د دولتی سیستمونو امنیت ته باید پاملرنه وشی، زموږ د معلومات پر اساس، د دولت مخالف کسان لکه(........) د فرانسوی او المانی هکرانو څخه په استفادی ، راتلوونکو څومیاشتو کی سایبری بریدونه کوی، نه یواځی دولتی اداری یی هدف دی بلکی حکومت پلوی سیاسی څهری یی هم هدف دی.

۴ - د کارمندانو لاسرسی باید سیستمونو ته محدود شی، ځینی کارمندان اوس هم محرم اسناد د افغانستان او افغانانو ضد رسنیو ته ورکوی.

۵- د الکترونکی تذکرو د ویشلو پروسی څخه باید جدی څارنه وشی، د نورو قومونو د شمیر لوړول په پار جعلی هویتونه اوس هم جوړیږی،او د جمهوریت په شان هیڅوک ورته پام نه کوی.

۶- یو دولت،خلک او ټولنه هغه وخت پرمختګ کولای شی چی پکی کار اهل کار ته وسپارل شی.

افغان دراګنز یا افغان اژدهاوی خپل فعالیت دروی او له دی وروسته هیڅ کوم دولتی اداره نه په نښه کوی.

منبع: https://t.me/AfghanDragons

دی ډلی د افغانستان ټول دولتی ویب سایتونه د ۲۴ ساعتونو لپاره له کاره غورځولی وو.

سرچینی:

[وبسایت‌های شماری از وزارتخانه‌های طالبان به دلیل حمله هکرها غیرفعال اند | افغانستان اینترنشنال]

[وبسایت‌های چندین وزارت طالبان هک شدند - اکسوس]

[گروه هکری افغان دراگنز وب‌سایت چند وزارتخانه طالبان را هک کرد | شهرآرانیوز]

ددی ډلی فعالیت ډیر لنډ وو خو له غټ راز څخه یی پرده پورته کړه.

نوری ډلی لکه طالب لیکس او ... هم افغانستان کی فعالیت لری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی

(څنګه یو هکویسټ جوړ کړو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځو لومړی د شاوخوا خلکو په اړه فکر کوو، ستاسو ملګرو، همصنفیانو او ګاونډ کی حتما داسی څوک شته چی د هکینګ اړوند پوهیږی، زده کړی یی کړی وی او یا هم د زده کړی په حال کی وی. تاسو یی په اړه فکر وکړئ.

د یوې هکټیوېسټ ډلې د جوړېدو تر ټولو لومړنی او بنسټیز پړاو د غړو موندل دي. دا پړاو د سختو مرحلو څخه شمېرل کېږي، ځکه د باور وړ او د مهارت خاوند کسان پیدا کول اسان کار نه دی. د یوې هکټیوېسټ ډلې ژوند په همدې غړو ولاړ وي؛ که غړي ضعیف یا بېباوره وي، ډله له منځه ځي.

که لږ تر لږه پنځه باوري کسان پیدا شي چې لاندې ځانګړي مهارتونه ولري، نو د یوې هکټیوېسټ ډلې د جوړېدو لپاره کافي دی. البته دا یوازې د پیل ټکی دی، نه پای:

- په ویب هکینګ بشپړ تسلط ولري.
- د مالویر جوړولو مهارت ولري.
- شبکې هکینګ(Network Hacking)
- د شبکو یا نیتورک هکینګ تجربه ولري.
- د معلوماتو راټولولو او اوسینټ (OSINT) مهارتونه ولري.
- ستراتیژیک همغږي(Coordination & Planning)

دغه مهارتونه د یوې هکټیوېسټ ډلې د بنسټ لومړني ستنې دي. له دې ځایه وروسته ډله کولی شي خپلې کړنې تنظیم کړي او ورو ورو پرمختګ وکړي.

دا کسان د اوس لپاره بسنه کوی، خو لا زیاتو کسانو ته اړتیا ده.

کله چې د یوې ډلې لومړني غړي راټول شي، راتلونکی مهم ګام د نوم ټاکل دی. نوم یوازې یو کلمه نه ده؛ نوم د ډلې د فلسفې استازیتوب کوي، د هغوی د فکر هنداره ده او د خلکو په ذهن کې د هویت ځای نیسي. همدارنګه نوم د ډیجیټل نړۍ په پراخه ډګر کې د ډلې د پېژندنې نښه ګرځي.

د لاندی نومونو په شان یو نوم وټاکی:

Pashtoon Hackers ,Khayber Army, Quat Cyber Army, Badri313 Hackers,Afghan Specials, ,B1919,Khapalwaki Hackers

ازادۍ غوښتونکی،ځواک هکری ډله او ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه هکری ډله د نظر او ایډیولوژۍ پر اساس جوړیږی،مثلا یوه اندازه ماهرین یوځای کیږی او د پاکستان هیواد باندی سایبری بریدونه کوی هلته د پښتون ژغورنی غورځنګ ملاتړ کوی او پر پښتنو د ظلم په مقابل کی غږ اوچتوی او ډیجیټلی نړۍ کی جنګیږی.

یو شمیر د فلسطین څخه د دفاع په خاطر یوځای کیږی او د اسراییلو په ویب سایتونو باندی سایبری بریدونه کوی.

ځینی ماهرین بیا افغانستان کی د انجونو د زده کړو په خاطر د دولت مقابل کی سایبری بریدونه کوی.

یاهم ځینی یی د دولتونو د پټو معلوماتو د افشا کولو لپاره ترسره کوی.

نو هره ډله د یوی ایډیالوژۍ په اساس رامنځته کیږی، تاسو چی یوځای کیږۍ هم یو هدف باید ولرۍ چی د څه لپاره دا ډله جوړوۍ

د غړو ترمنځ اړیکی جوړول، ترڅو خپل علم له نور سره شریک کړی.

اوس وخت دی چی هر یو د یوی برخی مسلکی شی او دا ډله یو مکمله ډله شی.

هر یو مو یوهدف وټاکۍ یو مو د ویب هکینګ برخه کی زده کړی پیل کړۍ یو د مالویر ډیوالپمینټ، همداسی د نیټورک هکینګ او سیسټم هکینګ برخه کی.

د ځنډ وروسته تاسو خپل مسلک کی تر زیاته حده پوه شوی یاست او اوس وخت دی چی په ګډه سایبری حمله وکړۍ

لومړی سایبری حمله - د شهرت پیل

حالاتو ته په کتو مو خپله لومړنۍ سایبری حمله وکړۍ

مثلا یو ځل بیا پاکستان د افغانستان سرحدتو ته نږدی راکیټی بریدونه کړی دی، د غچ اخیستلو لپاره یی په دولتی او شخصی ویب سایتونو سایبری حملی وکړۍ

او ورته نوری پیښی چی تاسو یی ترما ښه تحلیل کولای شۍ

مګر کوم سایبری بریدونه.

دا د ډلی شروع ده غړی یی پوره نه دی او یوه مکمله او هر له لحاظه بشپړه ډله نه ده.

نو زما به نظر ډیړاس ترتولو غوره سایبری حمله ده، تخریب یی زیات مګر اجرا کول یی اسانه دی، څو قوی کمپیوترونو، او قوی انترنت ته اړتیا لری،مګر تاسو کولای شۍ د vps نه هم استفاده وکړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا هم ډیفیس او لیک کول،له تجاری او شخصی ویب سایتونو نیولی تر دولتی ویب سایتونو چې هر یو ته لا سرسی کولای شی ډیټا یی لیک کړی منځپانګه یی دیفیس کړی

به یو نه یو شکل مو خپلی حملی تر رسنیو ور ورسوی تر څو هغوی یی درته نشر کړی.

یو منبع جوړه کړی چیرته چی خلک کولای شی ستاسو سایبری حملی وګوری،لکه تیلیګرام کی یو چینل جوړ کړی او سایبری حملو په اړه چی ترسره کوی یی هلته معلومات خپاره کړی

د غړو ټولنی مرحله ترټولو مهمه مرحله ده، خو تردی مهم د هغوی هویت دی چی باید پټ وساتل شی. هر غړی باید خپل ځان لپاره یو پټ او مستعر نوم انتهاب کړی، لکه

Afghan Hacker,Afghan Virus,pashtun Malware,Pushton Army

او ....

خپل ټول معلومات له منځه یوسی او نه پریږدی ټرک شی.

مثلا تیلیګرام کی اکاونت جوړوی، د مبایل شماره هایډ کړی، او نوری ټولی د پراویوسی پالیسی تطبیق کړی.

په لنډو کی ووایم خپل پیژندګلوی پټه کړی، داچی سوک دی ،نوم یی څه دی، چیری اوسی او د تلفن شماره یی څه شی ده.د امکان تر حده داسی فضا جوړه کړی چی د ډلی اصلی غړی هم یو بل په اصلی نومونو ونه پیژنی،فقد یو نوم باندی یو بل وپیژنی چی مستعر نوم دی.

تاسو د ډلی نوم انتخاب کړ،غړی مو ورته پیدا کړل د هغوی ترمنځ مو همهغږی رامنځته کړه، هر یو د خان لپاره یو مسلک وټاکل، اوس وخت دی چی نه یواځی بر سایبری حملو فوکس وکړی بلکی ځان دی حد ته ورسوی چی په قانونی یا غیر قانونی توګه پیسی پیدا کړی

باګ بانتی غوره انتخاب دی چیرته چی تاسو کولای شی بهترین عاید ترلاسه کړی او تر ټولو خه دا چی قانونی دی،

د باګ بانتی په اړه دلته مکمل لوستلای شی:

افغانستان کی قانونی توکه موږ د اخلاقی هکر په توګه پیسی ترلاسه کولای شو؟

هو، په افغانستان کې د اخلاقی هکر په توګه د پیسو ترلاسه کول ممکن دي، خو واقعاً ډېر محدود فرصتونه لري. د دې لوی علت زموږ په ټولنه کې د ډیجیټلي ټکنالوژۍ د ودې ټیټ کچه ده. تر ډېره حده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

يواځې دولتي اداري او يو شمېر خصوصي بانکونه دي چې د خپلو معلوماتي سیستمونو د امنیت لپاره د سايبري امنیت متخصصین یا اخلاقی هکران استخداموي.

ډېری خصوصي شرکتونه، تجارتي موسسې او حتا ځینې غیر دولتي سازمانونه لا هم د کاغذ او قلم په پخوانۍ طریقه خپل کاروبار پرمخ وړي او کوم پرمختللي ډیجیټلي سیستمونه نه کاروي. له همدې کبله دوی د سايبري امنیت اړتیا نه احساسوي او د دې برخې لپاره متخصصین نه ګماري.

البته، د وخت په تېرېدو سره چې د افغانستان سوداګریز سکتور، بانکونه، د مخابراتو شرکتونه او ځینې دولتي اداري په ډیجیټلي تحول تمرکز کوي، د سايبري امنیت اړتیا ورځ تر بلې ډېره کېږي. په ځانګړي ډول بانکونه، چې د خلکو د پیسو او مالي سیستمونو د ساتنې لپاره د لوړ امنیتي معیارونو اړتیا لري، له همدې امله د اخلاقی هکرانو او سايبري امنیتي متخصصینو په ګمارلو کې د پام وړ رول لوبوي.

په اوس وخت کې که څه هم د افغانستان د کار بازار د اخلاقی هکرانو لپاره محدود دی، خو راتلونکې کې د ډیجیټلي ودې او د ټکنالوژۍ د عامېدو سره به دغه اړتیا لوړه شي. هر هغه څوک چې غواړي په دې برخه کې کار وکړي، باید خپل مهارتونه نړیوالو معیارونو ته ورسوي، نړیوال تصدیقونه) لکهCEH ، OSCPاو نورو (ترلاسه کړي او په انلاین ډول هم د نړیوالو شرکتونو سره د لرې (Remote) کار فرصتونه ولټوي.

په پایله کې، د افغانستان دننه د اخلاقی هکرانو لپاره د کار فرصتونه ډېر لږ دي، خو د نړیوالو بازارونو له لارې کولای شي خپل مهارتونه په عاید بدل کړي، تر څو هم د شخصي پرمختګ لامل شي او هم د هېواد د سايبري امنیت د پیاوړتیا لپاره یوه ارزښتمنه ونډه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ریم څپرکی

(وړاندیزونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو هکری ډلی د جوړولو لپاره به فکر نه کوم د چا مرستی ته اړتیا ولري‌چت جی پی تی تاسو سره د امکان تر حده مرسته کوی، خو بیا هم بنده مو تل په خدمت کی دی، د تیلیګرام له لاری ماسره اړیکه نیولای شی.

ځینی خبری دی چی باید تاسو پری پوه شی،دادی چی اخلاقی هکر دنده خو معلومه ده هکینګ په اخلاقی ډول سره ترسره کوی او قانونی اجازه لری، خو که چیرته تاسو یو هکری ډله جوړیږی او غیر قانونی کړنی کوی، نو انسانیت باید نظر کی ونیسی، هدف مو باید هغه کسان وی چی ظلم کوی، ټولنه خرابوی، یا مو باید هغه کسان وی چی د ملی ګټو خلاف وی.

پیسی هرڅه نه دی، که له مالی انګیزی سره ځان ځرګندوی او خپل فعالیت مخته وړی بیا هم پورته خبره په نظر کی ونیسی.

زه تاسو ته انتخاب نه شم درکولای چی څه وکړی او څنګه یی وکړی،زما مرسته به تاسو سره داوی چی د هرڅه جوړولو کی درسره اوږه په اوږه ولاړ یم، هرڅه چی می وس کی وی ترسره کوم یی خو تاسو فقد یو اقدام وکړی، غړی راتول کړی او ددی نړی دروازه پرانیزی.

په نړی کی ډیر کم داسی کتابونه لیکل شوی، چی ویونکی د کتاب اخیر کی داسی حالت سره مخ کړی چی د دوو ښو ترمنځ کوم یو یی انتخاب کړی.

خو زما هدف بیا دادی چی په یو نه یو ډول ویوونکی دی ته وهڅوم چی نور بس دی، تر کومه به تیکتاک ګوری، ترکومه به په ساعتونه ساعتونه وخت د پابجی او نورو ګیمونو په ترسره کولو تیروی، ترکومه به فیسبوک کی د انجونو غوږه مالی کوی، ترکومه به ځان ټوکی معرفی کوی ترڅو د انجونو توجو وړ وګرځی، تر کومه به ځان د نورو لپاره قربانوی ،ترکومه به په دی فکر یی چی زه یی نه شم کولای، ترکومه به ځان خطا باسی چی ته کامیابه یی،نور راویښ شه، تا خپل زیات عمر په بی ځایه کارونو تیر کړی، تا ټول عمر په غلامی تیر کړی، داسی غلامی ته خپله هم نه پوهیږی غلام یی.

سبا یی مه پیل کوه، مخکې له دې چې د همدې کتاب لوستل پای ته ورسوي پیل یی کړه ځکه که ته یوازې پنځه دقیقې ناوخته شې، په حقیقت کې درې سوه ثانیې دې له لاسه ورکړي دي. هره ثانیه د ژوند یوه نه تکرارېدونکې شیبه ده، نو هڅه وکړه چې یوه هم بېځایه ضایع نه کړې. وخت ستا تر ټولو لویه شتمني ده، هغه داسې سرمایه ده چې هېڅکله نه راګرځي. نو د نن ورځې کار نن ترسره کړه، سبا ته یې مه پرېږده.

وخت ته د دقیقی حساب مه کوه د ثانیی حساب وکړی بیا وګوره چی تا څومره وخت ضایع کړی دی.

ګیله د پوهنتون له محصلینو کیږی؛ ځکه چې تر اوسه یې هېڅ همغږي نه ده ښودلې، د ګډ کار فکر نه کوي، او ځان یوازې محدود ساتي. حال دا چې همدغه محصلین دومره وړتیا لري چې هر څه ترسره کړي، هره نوې دروازه پرانیزي او هره نوې موخه وځپي. پوښتنه دا ده: ولې یو سافټویر هاوس نه جوړوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې د همدې پوهنتون په دننه کې یوه هکري ډله نه جوړوئ؟ تاسو وخت لرئ، برېښنا لرئ، انټرنېټ لرئ— هر څه درسره دي. یوازې یو څه درڅخه پاته دي: یووالي او همغږي.

نو زما وروستۍ هیله دا ده چې بیدار شئ! د خپلې وړتیاوو ځواک وپېژنئ او د ګډ کار له لارې هغه راتلونکی جوړ کړئ چې د نړۍ پر مخ د درناوي وړ وي.

که دې دا کتاب ولوست، نو باور وکړه چې تا پکې ستره ګټه او ارزښت وموند. ځو اصلي ارزښت هغه وخت رامنځته کېږي چې ته یې یوازې ځان ته محدود نه کړې، بلکې له نورو سره یې هم شریک کړې. نو هیله لرم دا کتاب لږ تر لږه له خپلو پنځو ملګرو سره شریک کړې، څو هغوی هم د دې پوهې او الهام برخه‌وال شي. کېدای شي ستا دا یو ګام د نوي فکر، یووالي او لوی بدلون پیل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندی مسیج یوازی د هغو کسانو لپاره دی چی غواړی یوه هکری ځله جوړه کړی:

Base64 Encrypt:

متن ساده دیکریپشن ته اړتیا لری:

qnZhyDYqtmHINivINmH24zaqduM2YbaqyDaq9ix2YjZviDYrNmI2pPZiNmEINi62YjYp9qT25DY2
jCDYstmHINio2Ycg27HbsNuw2aog2YXYsdiz2KrZhyDYr9ix2LPYsdmHINmI2qnak9mFIOKAkyDY
s9iq2Kcg2K8g2Lrak9mIINivINix2YjYstmG25Ag2YTZvtin2LHZhyDYqNmHINiv2LHYs9ix2Ycg
YXYsdiz2KrZhyDZiNqp2pPZhdiMINqp2YjYsdiz2YjZhtmHINio2Ycg2K/Ysdqp2pPZhSDYp9mI2
INqp2YTZhyDZhtin2qnZhNmHINio2Ycg2K/Ysdiq2Ycg2K8g2YfbjNqp24zZhtqrINmI2LPYp9uM
YQg2YfZhSDYqNix2KfYqNixINqp2pPZhS4g2YbZiCDaqdmHINiq2Ycg2LrZiNin2pPbkNiMINix2
KfYs9ix2Ycg2Kfak9uM2qnZhyDZiNmG24zYs9mHLgrZvNuM2YTbjNqr2LHYp9mFOiBAbGV0c21h2
a2VoYWNrdGl2aXN0

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکوونکی : بی نومه

د اړيکی لپاره : https://t.me/letsmakehacktivist

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پورته ذکر شوو هکرې ډلو په اړه نور معلومات دلته لوستلای شی:

6 Pakistani Ministry Websites Hacked by Afghan Cyber Army

Mini Cyber-Conflict Leaving Impact on Small Businesses and Governments Sector - CYFIRMA

https://thecyberexpress.com/cyber-attack-on-bredband2-ab-team1919

6 Pakistani Ministry Websites Hacked by Afghan Cyber Army

100 High Profile Pakistani websites Hacked and Defaced by Afghan Cyber Army. - UMA Technology

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**